مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۳/۲۷

# د نجونو د تعلیم پرسر ناندرۍ

## د نجونو د ښوونځیو د بندولو ورځ
## زموږ لپاره توره ورځ ده.
## زموږ لوڼي، خويندې او لمسیانې تعلیم غواړي!

له کله چې په افغانستان کې نوي واکداران د واک پر ګدۍ کېناستل، د څه باندې اوو میاشتو له تېرېدو سره ـ سره تر اوسه هېڅ هېواد په رسمیت نه دې پېژندلې. دوی د خپل واک تر لومړۍ دورې ډېر نرم شوي، خو څیني کړنې يې له دومره احتیاط سره ـ سره د افغانستان د عامو خلکو او نړیوالې ټولنې له غوښتنو سره په ټکر کې واقع کېږي.

د نويو واکدارانو له خوا د ټولو نجونو د ښوونځیو د پرانستلو وعدو، په هېواد دننه او د نړیوالې ټولنې په کچه د ډېرو خلکو په زړونو کې امیدونه پیدا کړي وو، خو د ښونځیو د پیل په ورځ په ناڅاپي ډول وعدې پر ځای نه شوې او له شپږم تر دولسم ټولګي پورې نجونو ته اجازه ورنکړل شوه چې د ښونځیو په دروازو ور ننوزي، په دې عمل سره د خلکو په زړونو کې د امید غوټۍ ورژېدې په میلیونونو افغان وګړي له خپګان او ناامیدۍ سره مخ شول.

د نويو واکدارانو دې کړنې ته په هېواد کې دننه او له هېواده د باندې په پراخه کچه غبرګونونه وښودل شول، تر دې چې دا تا ویل او ما ویل اوس په ناندریو بدلي اوښتي دي، ان تر دې چې «د م.م امنیت شورا نن (۲۰۲۲/۰۳/۱۵) د افغان نجونو ښوونځیو په تړل کېدو بحث کوي»

دلته به په افغانستان کې له شپږم ټولګي پاس، د نجونو د تعلیم د مخنیوي پرسر د ناندریو او غبرګونونو په لړ کې، لومړی په هېواد کې دننه څو غبرګونونه راواخلم او بیا به په نړیواله کچه د نويو واکدارانو د کړنې په مقابل کې د نړیوالو غبرګونونو ته تم شو:

هېواد دننه د غبرګونونو تر ټولو مهمې برخې د بي بي سي په پښتو ویبپانه کې د یو رپوټ په ترځ راوړل شوي دي. د رپوټ په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«'د شپې يې څو ځلې اوتو کړي کالي واړول راواړول، ډېره خوشاله وه چې سبا ښوونځي ته روانه ده. خو سهار چې له کوره ووتله، لږ وروسته سرې سترګې بېرته راغله.'

دا خبرې له کابله یوې خور د خپلې کشرۍ خور شبنم په اړه راته وکړې. په رپوټ کې د څینو کسانو پېژندګلو د امنیتي ستونزو له وېرې پټه ساتل شوې او نومونه يې مستعار دي.

"نجونو ژړل او کور ته نه تلې:"



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

نن سهار د زرګونه مکتبي افغان نجونو لپاره د خوښۍ سهار و. له شاوخوا شپږ میاشتیني ځنډ او ژمنیو رخصتیو وروسته یې پر مخ د ښوونځي دروازې بېرته پرانېستل کېدلې. هغه هیلي یې بیا په غوړېدو وې چې د طالبانو له راتګ سره د ښوونځیو د بندېدو له کبله مړاوې شوې وې. ځینې له ډېرې خوشالۍ د ښوونځي له وخته یو څه وختي تللي وې چې خپلو خورلنو ټولګیوالو سره وګوري او بیا یوه بله په غېږ کې ونیسي او د خپلو ټولګیو له څوکیو ګرد څنډ وهي.

د کابل د سیدنورمحمد شاه مېنې د نجونو لیسې یوې زدکوونکې راته وویل، په تمه وه د ښوونځي زنګ به وکړنګېږي او ټولي به ټولګیو ته ننوځي خو خبره نه وه چې طالبانو خپله ژمنه بدله کړې ده...»

یو قلموال په عجیب طنز امیز ډول دې موضوع ته داسي اشاره کړې ده:

«له زانوکټوری مه غواړه»(متل)

چا ته مي ویل:

د مکتبونو کیسه څنګه روانه ده؟

ویې خندل، ساده یې!

مخکې له قدرته یې ولي سوزول، چې اوس یې چالان کړي. بنګ مي له سره والوتل. ما ویې همداخبره ده!!!»

یوه بل فرهنګي بیا داسي لیکلي دي:

«... مخلوقه
پرون دنجونو پر مخ دمکتبونو دروازې نا څاپه او نابېره نه دي تړل شوي
ددغو تړلو تر شاه هغه عوامل پراته دي چې په پنځولو کې یې موږ ټول شریک یو
ملتونه چې دخپل تقدیر دځنځیر کړی په خپله کوشیر نه کړي بیا یې نو غمیزې ورته کوشیروي
که موږ همداسي دسلطان محمود دلټانو په لټی کې لیټي خورو
خدازده که به په زرو راتلونکو کالونو کې هم دبښي ورځي مخ ووینو.»

د نجونو د ښونځیو دروازې تر نامعلوم وخت پورې بندولو په پلمه د نوي نسل د روزلو د یوې فعالي مریم امرخیل د یوې اوږدې لیکنې په ترڅ کې خپل نظر څرګند کړی دی. د اغلي مریم امرخیلي د لیکنې ځیني برخي دا دي:

د یوې ټولنې په پرمختګ کې د نارینه په اندازه ښځه هم د برابرو حقونو مالکه ده لکه څنګه چې د بشر تکامل د ښځي یا نر څخه پرته نیمګړی دی همدغه شان د ټولني پرمختګ او ژوند د ښځي له تعلیم او ټولنیز حیثیت پرته ناممکن دی.

موږ په داسي یوه زمانه کې ژوند کوو چې نور د ښځي او نر بحث کول د پیریو شاته پاتي او شاربل شوي کلیشه یي خبرو کې راځي.اوس داسي زمانه ده چې  د انسان کاري ځواک او ځرکتیا ته کتل کیږي ننی نړۍ کې تعلیم د هر انسان لپاره دومره مهم دی لکه د انسان بدن چې بې اوبو ځښلو نه شي پایدلي .تعلیم د اوسني انسان اصل او اساس دی.  هغه وګړي چې بې تعلیمه لوییږي په اوسنی زمانه کې د هغوی شتون نه یوازې د ټولني بلکې خپله هغوی ته لوی سرخوږی دی.
افغانستان او زموږ په شان غریب هېوادونه چي لسیزو جګړو خوړلي د نړۍ په داسي یو  عصر کې چې د ځیرکي ټکنالوژۍ خورا چټک ګامونو سره زموږ مندې او ځغلیدل هم تر دوی رسیدل خورا ډېره سختي ګالل غواړي. باید دافغانستان په شان یو وروسته پاتي هېواد د خپل مزل یو ساعت هم بې ځایه تیر نه کړي او لا چټک ګامونه واخلي خو له بده مرغه موږ نه یوازې چټک څه چې عادي تګ هم نه کوو، بلکې د خپل نسل د تعلیم او پرمختګ په لاره کې په خپله خنډونه رامنځ ته کوو ...
د معارف د قانون په نهه دیرشمه ماده کې راغلي چې د زده کوونکو  هر ډول جسمي او روحي ځورول(حتی د هغوی د تادیب او اصلاح په منظور) بند دي. د سرغړونکي د قانون د حکمونو مطابق تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي.
خو اوس د افغانستان د میلیونونو ښځینه زده کوونکو سره په ملي کچه ذهني ځورونه پیل ده چې خورا بدې پایلې به ولري

چې د معارف د قانون له مخې د اسلامي، وطن پالني، ملي یووالي، د خپلواکۍ د ساتني او له ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع، د ملي ګټو، نوامیسو او د افغانستان اسلامي  نظام ته د وفادارۍ د ورحیي پیاوتیا او د  زده کوونکو اخلاقي، عاطفي، ذهني، بدني روزني او ټولنیزې روحیي وده او پرمختیا لپاره دغه ډول چاره لویه بې انصافي او جفا ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ددي پرځای باید د پوهنې ودې او ترقی لپاره د هغو د مادي او معنوي همکاریو د جلبولو د زمینې برابرول ته کار شوی وای او لاندې برخو ته پام اوښتی وای یا واړول شي دا به د معارف برخه کې لوی پرمختګ وي...»

ښاغلي ډوکتور بهیج عثماني بیا داسې لیکلي دي:

«... دوی (طالبانو) تراوسه پورې په پوچو پلمو د نجونو د زده کړو مخه نیولې او ښځو ته یې اجازه نه ده ورکړې چې په دولتي ادارو کې کار وکړي. یوازې په هغو ادارو کې یې د کار کولو اجازه ورکړې چې ورته زیات ضرورت لري...»

او وروستی خبر دا چې په کابل کې د ښوونځیو د ترلو په خاطر د ښوونځیو یو شمې زدکونکو مظاهرې کړې دي. د تاتر په یوه ریوټ کې داسې راغلي دي:

«لسګونو نجونو په کابل کې د ښوونځیو د نه پرانیستل کېدو په اعتراض کې مظاهره وکړه، دا چې دا او دې ته ورته مظاهرې به کوم ځای ونیسي که نه...»

نړیوالې ټولنې چې د افغانستان په هره برخه کې پوره رول لوبولای شي هم په بېړه او جدیت سره د نویو واکدارانو دې کړنې ته غبرګون ونښود. دلته به د نړیوالې ټولنې د غبرګونونو مهم سرلیکونه راواخلم:

بي بي سي پښتو:

«د لوېدیځ خبرداری: له ښوونځیو د نجونو راګرځول د طالبانو د مشروعیت هڅې اغیزمنوي.»

تاند:

«د م.م امنیت شورا نن د افغان نجونو ښوونځیو په تړل کېدو بحث کوي.»

بي بي سي پښتو:

«د ملګرو ملتونو امنیت شورا: طالبان دې ټولو نجونو ته د ښوونځیو دروازې پرانیزي.»

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم خپل نظر کې ویلي چې که طالبان خپله پرېکړه وانخلي تاوان به وکړي. د تاند په یوه ریوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند(پنجشنبه، د حمل ۳ مه) د طالبانو له لوري د نجونو د لیسو د نه پرانیستلو په غبرګون کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن ویل، که طالبان په دې برخه کې خپله پرېکړه بېرته وانخلي، له نړیوالې ټولنې سره د اړیکو د ښه کېدو لپاره هیلې یې زیان وینې.

ښاغلي بلینکن پر خپله ټویټرپاڼه کښلي:

زده کړې یو بشري حق دی. د امریکا متحد ایالتونه د افغانستان خلکو ته له ورکړیو ژمنو چې ټول به نن په ټولو کچو ښوونځیو ته تللی شي، د شاتګ لپاره د طالبانو پلمې نه مني.»

د بي بي سي په یو ریوټ کې ویل شوي دي چې د طالبانو له لوري د نجونو د ښوونځیو د بندولو د عمل په مقابل کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له طالبانو د خپلو کېدونکو خبرو پروګرام ودراوه.

د بېښنې نړیوال سازمان هم ویلي دي چې افغانو نجونو ته دې باید سملاسي ښوونځیو ته د تګ اجازه ورکړل شي.

په افغانستان کې نوي واداران باید دې ته پام وکړي چې په افغانستان کې اوږدې جګړې ډېرې ناخوالې زېږولې او د جګړې په رامنځته کړو ستونزو کې دې خلکو او وطن ډېرې ربړې زغملې دي، پر دوی باندې نوره ناروا او ظلم ونه شي.

تعلیم د خلکو او وطن د پرمختګ او هوساینې لپاره ډېر اړین دی، نوی نسل له تعلیم نه پرته ژوند نه شي کولای، نه یوازې دا چې د دوی د تعلیم مخه بېد ونه نیول شي او ستونزې ورته پېښې نه کړای شي، بلکې اړ دي چې هغوی ته د تعلیم او روزنې له پاره له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفای سره د تعلیم امکانات ورته برابر کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څېر و لولـئ